شیر محمد اميني ستانکزی ۲۰۱۸/۱۱/۰۵

# د ماشومانو په روزنه کې ځو مهم او اړين ټکي

## لومړۍ برخه

د نن ورځې ماشومان که کوچنيان دي، خو د سبا ورځې لويان او د ولسونو د خدمت لپاره خادمان دي، نو خپل ماشومان په کوم ډول وروزو څو د هېواد او د خلکو لپاره رښتيني خدمتګاران واوسي؟ د دې لپاره چې ماشومان مو د راتلونکي لپاره ټولني ته په سالم ډول وړاندې شي، نو هر مور او پلار مکلف دی، چې د خپلو اولادونو د سالمې روزنې لپاره زده کړې ورکړي او د رسمي زده کړو تر پيل خپل ماشومان دې ته چمتو کړي، چې د ښوونځي او آن د پوهنتون زده کړې په سمه توګه ترلاسه کړي.

د ماشومانو د روزنې لومړنی پيل د مورغيږه ده، کوم چې د ماشوم ذهن او فکر د ودې منظم ماشين په کارپيل او تر بدايتوب پورې کار کولی شي .

ځکه د ماشوم ذهن د سپين کاغذ په شان وي، چې په دې کاغذ کې څه وليکل شي، هغه د ژوند ترپايه پاتي کيږي او ورسره ماشوم په عملي ډول کړنې ترسره کوي.

نو اړينه يې ګڼو، چې په دغه پړاو کې مور او پلار د خپلو ماشومانو کړنو او خبرو ته ډېره پاملرنه وکړي، څو د هغوی په وده او پراختيا کې لازمي لارښووني او سپارښتني ورته وشي .

ماشومان پريږدئ، چې هرڅه په خپل طبيعت کوي، د مخنيوي لپاره يې غبرګون مه ښکاره کوئ، په ډېرې آرامۍ ورته ښې لارښووني وکړئ، څو د هغه کار يا خبرو کولو نه ډډه وکړي.

که چېرته د ماشومانو په کارونو او يا خبرو کې ځان ښکېل کړئ، نو ماشوم هغه کار يا خبرو ته نور هم دوام ورکوي او په دې سره د ماشوم ضدي حس پياوړی کيږي، نو چې کله لوی شي، ضدي او کينه ګرانسان ورڅخه جوړيږي .

د ماشوم ذهن او فکر د پراختيا په حال کې وي، په دې وخت کې بايد ماشوم په اسلامي، ديني او شرعي لارو چارو وروزل شي او په لومړيو کې يادونه ورته وشي. لکه د اسلام پنځه بناوې، د خدای (ج) پيژندنه، د پيغمبر څلورياړانو نومونه او داسي نور... غوره داده، چې ماشومان مو کله کله له ځان سره جوماټ ته بوځئ، څو دوی په عملي ډول د لمانځه او اودسه کولو طريقه زده او هم د جومات ملا ورته د لومړي درس بغدادي پاره پيل کړي.

وروسته بياهم د ديني موضوعاتو ترڅنګ د هيواد پالنې په اړه هم لنډ شان ته مالومات ور زده کړل شي، څو په راتلونکي کې د هيواد پر وړاندې ملي شخص واوسي .

خپلو ماشومانو ته د ساتيرې اړين توکي له بازاره وپيرئ او له هغه توکو ډډه وکړئ، څو د ماشوم ذهني پياوړتيا ورسره نا آشنا وي، لکه: پلاستيکي ټوپکونه، تمانچې او داسي نور...
ښه داده، چې هغه څيزونه ورته واخلئ،څو دوی هم د ژور فکر کولو له امله په ځوانی کې وهڅيږي او ځان يو موقف ته ورسوي.

ماشومان مو له کتاب او قلم سره آشناکړئ، څو له کوچنيوالي يې له علم سره مينه پيدا شي. ماشومان مو تفريح ځايونو ته له ځان سره ځينې بيايئ، څو دوی د پوښتنو کولو ته مخه وکړي، کله چې دوی پوښتل چې دا څه ده؟ د څه لپاره ده او يانورې ورته پوښتنې کولې نوپه واضح ډول پوښتنې يې ځوابوئ .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ماشومانو مخې ته بدې او سپکې خبرې مه کوئ او نه هم د هغوی پر شتون لفظي او یا فزیکي جګړې وشي، ځکه دوی فکر کوي، چې همدا خبرې او جنګ کول به ښه وي، نو اړینه ده، چې د هغوی ترمخ له کورنۍ سره په مینه اومحبت ښه چار او چلند وشي، تر څو د میني په فضا کې کوچنیان مو را لوی شي.

زموږ په وروسته پاتي ټولنه کې دغو خبرو زیات رواج موندلی،چې ماشومان مو کله ناکله ښکنځلو ته هڅوو. ورته وایو چې کاکا ته دې یوه ښکنځل وکړه او بله ناوړه خبره یې په خوله کې ورکو، دغه کار د ماشومانو په روزلو کې لویه جفا شمیرل کیږي.

کله چې ماشومان مو ولیدل په غلط کار باندې بوخت دي، نو په ډیرې مینې هغوی له دې کار څخه وژغورئ، د کار په اړه وضاحت ورکړئ، ورته ووایاست، چې دغه کار په ژوند کې ډیر زیانونه لري، څو موږ ورسره په دې بلا کې ونه غورځو او یا د خپل وړتیا په اساس ماشوم له ناوړه کار څخه منعه کړئ .
که چیرته ماشوم مو ځیل (سرشقي) وکړي او د کورځیني اسباب لکه ګیلاس، د کوټې د کړکۍ هنداري ماتول او دروازه په زوره زوره ډبول ترسره کړل، نباید ماشوم ته وهل او ټکول ورکړو، په ډیر ماهرانه ډول خپل ماشوم په غیږ کې واخلو او په مخ یې ښکل کړو ورته ووایو چې بچې جانه! که دغه توکي مات شي، بیا زموږ په کورکې به هیڅ څه نه وي، دا ټول په پیسو اخیستل شوي، نو که پیسې بیا په دغو شیانو مصرف کړو، بیا تاته به بوټ او جامي له کومه کړو، وګوره د نورو خلکو بچیان چې څومره ښکلي او نوي جامې یې په تن دي، هغوی هیڅکله نه ژاړي او نه هم د کور شیان ماتوي.

نو په دغو خبرو دماشوم فکر د ښو، بدو او د ګټې او تاوان په اړه وده کوي، بیا له سرشقی خلاص او کله چې لوی شي، نه به ضدي وي او نه به هم چا ته په زړه کې کینه ولري. ماشومان مو هیڅکله مه رټئ پریږدئ، چې دوی هم کله کله یو نظر ورکړي، که چیرته ماشوم مو غلط نظر او یا بده خبره هم وکړه، نو سمدلاسه یې خبرې مه پریکوئ او مه یې توهینوئ، په ډیره نرمه لهجه ورته ووایاست، چې بچیه! دغه خبره ښه نه؛ بلکې بده ده، خلک بیا په موږ خاندي، چې د پلانکي زوی داسې بده خبره وکړه، نه داچې د ماشومانو په جرأت زیاتیدو او په ښو اخلاقو کې مثبت رول لوبوي، بلکې ټولنې ته د ښه او مؤدب شخصیت په وړاندې کولو مهم او اغیزناک ګام وي .

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ